## سرلیکنه

په اوسني نړیوال نظم کې پوهنتونونه د ودې، پرمختګ، نوښت او سمون مرکزونه دي. پوهنتونونه د علم او فرهنګ د مرکزونو په توګه همېشه د نویو علمي اختراعاتو، څېړنو او علمي پرمختګونو شاهدان وو. د پوهنتونونو له لارې فرهنګي پانګه ساتل کېږي، غني کېږي او نورو نسلونو ته لېږدول کېږي.

پوهنتونونه د یوې ټولنې د سیاست او تحولاتو مسیر ټاکي او په خپله غېږ کې د نړۍ رهبران روزي. پوهنتونونه دي چې ټولنې ته مسلکي او تخصصي شخصیتونه وړاندې کوي او د ټولنې ستونزو ته ځواب وایي.

نو د یوه ځواکمن، سرلوړي، ازاد، خپلواک، پرمختللي او پر ځان بسیا افغانستان لپاره د تعلیمي او تحصیلي مرکزونو پراختیا او کیفیت لوړولو ته اړتیا ده، چې لوړو زده کړو وزارت د همدې اړتیا په درک سره، د ا.ا.ا له حاکمیت سره سم د یوه نړیوال او افغاني ټولنې اړتیاوو ته د ځواب ویونکي پوهنتون د جوړولو هوډ وکړ.

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر الحاج مولوي عبدالباقي حقاني ریاست الوزرا ته د افغان نړیوال پوهنتون د جوړولو وړاندیز وکړ، چې د ۱۴۰۰/۹/۱نېټه، ۱۱ ګڼې مصوبې (۵) بند پر اساس د «افغان امریکایي پوهنتون» نوم د «افغان نړیوال پوهنتون» ته واوښت.

اوسمهال افغان نړیوال پوهنتون د فوق الېسانس (ماسټري او دوکتورا) په برخو کې په لاندې توګه څلور پوهنځی او پنځلس څانګې لري:

١. د طب پوهنځی (د طبي علومو او نرسنګ) په څانګو کې دوه د ماسټري پروګرامونه او یو (د عامه صحت) په څانګه کې د دوکتورا پروګرام لري.
٢. د کرنې پوهنځی (کرنیز اقتصاد او د کلیو پراختیا، حیواني تولید او پراختیا) په څانګو کې دوه د ماسټري پروګرامونه او یو د (نباتي علومو) په څانګه کې د دوکتورا پروګرام لري.
٣. انجنیري پوهنځی (جیودیزي او د کانونو مدیریت او صنعتي ماشینونو ۵



إِنَّ اللَّهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى النَّبِيِّ
يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِيمًا

سیرت النبی



## نبوي سیرت

ترتیب: مدیر جان کوټوال

### د رسول الله صلی الله علیه وسلم هجرت او د مدینې لار:

کله چې قریشو ته د درې ورځو بې ګټې او بې فایدې تېزې لټونې څخه څه په لاس ورنه غلل، د لټونې ګرمې هلې ځلې سړې، د ګزمو ځغاسته بنده او د قریشو د جوش ولولې مخ په ختمېدو شوې؛ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم او ملګرو یې د مدینې په لور د سفر تکل وکړ.

له پخوایې عبدالله بن اریقط اللیثی چې په لار پېژندنه کې یې خورا زیاته تجربه درلوده، په کرایه نیولی و، که څه هم دا په کفري عقیده و؛ خو دوی پرې باور وکړ او خپل دواړه اوښان یې ورسپارلي او وعده یې ټاکلې وه، چې له درې شپو وروسته به یې د ثور غار خولې ته راولي.

د هجرت د لمړي کال د ربیع الاول د میاشتې په لومړۍ نېټه د دوشنبې په ورځ چې د (۲۲۲) میلادي کال د سپټمبر د میاشتې له (۱۲) مې ورځې سره سمون خوري عبدالله بن اریقط دواړه اوښان د وعدې ځای ته راوستل.

بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم، ابوبکررضی الله عنه او عامر بن فهیرة د عبدالله بن اریقط په لارښونه سفر شروع او د بحر د غاړې لار یې خپله کړه.

لومړی یې جنوب ته د یمن په لور مخ کړ، له څه مزل وروسته لویدیځ خواته د بحر غاړې ته نژدې او هغه لارې ته ورسیدل، چې عامو وګړو نه وه لیدلې، بیا یې د سرې بحیرې په غاړه د شمال په لور لار خپله کړه.

داچې په لار کې څه پېښ شول، امام بخاري د ابوبکرالصدیق رضی الله عنه په روایت لیکي:

له یوې شپې اوږده مزل وروسته مو سبا غرمه د یو غټ ګټ تر څنګ دمه وکړه، ما په خپل لاس رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ځای جوړ او ورته مو وویل: د الله جل جلاله رسوله! دلته ویده شه زه به دې چاپېریال څارم.

ګورم چې نابېره یو شپون د خپلو مېږو سره زمونږ خواته راغی، ماترې پوښتنه وکړه، د چا شپون یې؟ د مکې یا مدینې د کوم سړي نوم یې واخېست، چې د فلانکي شپون یم.

ما ورته وویل: مېږې دې شیدې لري؟ ویې ویل: هو! مېږه یې راونیوه او په لوښي کې یې شیدې ولوشلې.

بیا مو شیدې یخې او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورکړې، چې د الله جل جلاله رسوله! دا وڅښه تر هغې یې وڅښلې چې زه پرې خوښ شوم.

بیا د الله رسول پوښتنه وکړه، د بارېدو وخت نه دی؟ ما ورته وویل: ولې نه او بیا روان شو.

٢) ابوبکررضی الله عنه به همېشه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سې شاته سپریده، عمر خوړلی ښکارېده، مخ به ژر ور اووښت او په رسول الله صلی الله علیه وسلم کې د زوړوالي څه نښې نه وې؛ نو له ابوبکررضی الله عنه به چې چا پوښتنه وکړه، چې دا مخکې سړی څوک دی؟ ابوبکر رضی الله عنه به ځواب ورکاوه دا زما لارښونکی دی، مقصد دا ما ته د خیر لار رانبایي.

٣) دلارې په اوږدو کې سراقه! بن مالک هم د دوی د نیولو هڅه کړې:

سراقه خپله قیصه داسې کوي: زه د خپل قوم په یوه جلسه کې ناست وم، یو سړی راغی او په ولاړه یې وویل: سراقه د ساحل په غاړه مې یو څه تور والی له سترګو شو، خیال کوم دا به محمد صلی الله علیه وسلم او ملګري یې وي.

سراقه وایي: زه خو پوه شوم، چې همدوی دي؛ خو دوی ته مې وویل: چې هغوی نه دي دا فلانکی او فلانکی دي، چې لږ وړاندې موږ ولیدل چې ولاړل.

بیا لږ څه نور هم د خلکو سره کیناستم، بیا پورته او کورته ولاړم، وینځې مې اس تیار او په خورا تېزۍ سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم دوی خواته ورنږدې شوم، چې نابېره اس وښویید او زه ترې وغورځیدم، زه پورته او فال مې وکاته، چې زه دویته ضرر رسولی شم او کنه؟ هماغه غشی را ووت، چې ما خوښ نه ګاڼه؛ خوما غشي ته اهمیت ورنکړ او په اس سپور او دومره ورنږدې شوم، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د قرآن کریم د لوستلو اواز مې ترغوږ کیدای شو.

بیا مې د اس دواړه پښې تر زنګنو په ځمکه ښخې شوې، چې د راویستلو وروسته د پښو د ښخیدو د ځای څخه لوګی د اسمان په لور وختلو، بیا مې غشی وویشت، بیا هم هماغه غشی چې نه مې خوښیده راووت.

ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه په لوړ غږ امن وغوښت، هغوی ودریدل او زه په ځغاسته وروړسیدم او زړه ته مې پریوته چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به بریا مومي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم مې له قوم د ټولو حالاتو خبرکړ؛ نو ماته یې وویل: چې خبره پټه وساته ما هیله وکړه، چې د امن یوه پاڼه راکړي، عامر بن فهیرة ته یې امر وکړ هغه د پوستکي په یوه ټوټه لیکنه راکړه او ولاړل.

له ابوبکر رضی الله عنه څخه یو بل روایت داسې هم نقل شوی دی چې: موږ سفر کولو خلک راپسې ول؛ خو بې له سراقه یوه هم مونده نه شو کړای.

سراقه چې نږدې شو ما رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل: ای د الله رسوله! دغه سړی موږ ته راورسېد، رسول الله وفرمایل: غم مه کوه الله پاک له موږ سره دی.

سراقه بیرته ستون او ویې لیده چې خلک زموږ په لټه کې دي؛ نو هغوی ته به یې ویل:

له دې لورې څخه بې غمه اوسئ، ستاسې پر ځای ما پوره لټولې دي او خلک به یې بیرته ستنول، چې په دې ترتیب سراقه د ورځې په سرکې د دواړو د وژنو هوډمن او په اخر کې د دواړو ساتوونکې وو.



### امتحان رقابتی بورسیه های مقطع لیسانس کشور ...

قران و حدیث نبوی، از اشتراک کنندگان خواست که با استفاده از فرصت های تحصیلی برای بلند بردن سطح علمی شان توجه جدی داشته باشند.

از سوی هم، سید اسماعیل روحانی رئیس امور محصلان نهاد های تحصیلی خصوصی وزارت تحصیلات عالی نیز در سخنانش اضافه نمود، با آنکه برنامه های مختلف در سطح فوق لیسانس در کشور جریان دارد، اما نیاز است تا بورسیه های فوق لیسانس از کشور های دیگر برای محصلان افغانستان اختصاص یابد.

در این امتحان ۱۰۹ داوطلب اشتراک نموده برای بدست آوردن ۱۴ سیت بورس تحصیلی در بخش های مختلف مقطع لیسانس در کشور قزاقستان به رقابت پرداختند.

از جریان امتحان امروزی هیأتی مشترک از جانب کشور قزاقستان و وزارت تحصیلات عالی نظارت نمودند.

### د دیني جامعاتو او تخصصاتو د فورمونو د ...

او تخصصاتو لوی ریاست رئیسانو او مسؤلینو په حضوري توګه او د هېواد د دولتي پوهنتونونو فوق العاده استازو په انلاین بڼه ګډون کړی وو.

دا غونډه چې د قرانکریم په مبارکو ایاتونو سره پیل شوه، د دیني جامعاتو او تخصصاتو د معتبرو دیني جامعاتو د ثبت رئیس مولوي اسدالله فرید د ناستې ګډونوالو ته د ښه راغلاست تر څنګ، د لوړو زده کړو وزارت د جامعاتو او تخصصاتو لوی ریاست د فعالیتونو او تر سره شوو فعالیتونو په اړه معلومات وړاندې کړل او په دولتي ادارو کې یې د دغې پروسې پر پلي کولو ټینګار وکړ.

همدارنګه د دیني جامعاتو او تخصصاتو لوی ریاست، د فورمو ثبت ډېټابیس، په یاد ډېټابیس کې د اکونټ جوړول، په انلاین بڼه د فورمو ثبتول او ورته نور مهم مسایل د لوړو زده کړو وزارت د معلوماتي ټکنالوژۍ ریاست استازي انجینر ضیاء الرحمن صافي له لوري تشریح او معلومات وړاندې شول او په پای کې د ګډونوالو پوښتنو ته ځوابونه ورکړل شول.

هېره دې نه وي چې د دیني جامعاتو او تخصصاتو لوی ریاست، د اسنادو د ارزونې او معادلت په موخه هغو کسانو ته فورمې ورکوي او په تحریري او تقریري

ازموینه کې یې شاملوي، چې د ا.ا.ا د تېرې دورې اسناد لري، په تېره شل کلنه دوره کې یې د ا.ا.ا د پوهنې له کمیسیون څخه اسناد ترلاسه کړي او همدارنګه د بیرون مرزي او داخلي مدارسو اسناد له ځانه سره لري.

### مؤسسه تحصیلات عالی خصوصی زم زم ولایت پکتیا مورد ...

مطابق چک لست تمامی بخش های مؤسسه تحصیلات عالی زم زم را مورد ارزیابی قرار داد.

هم چنان مسئولان مؤسسه تحصیلات عالی زم زم با ابراز خرسندی از تشریف آورزی هیئت یا شده، از تطبیق قوانین و سایر رهنمود های وزارت تحصیلات عالی اطمینان داد.

### د ګوهرشاد خصوصي لوړو زده کړو مؤسسې څخه لیدنه او ...

وغوښتل، چې ټولنې ته په الهي دستوراتو او نبوي سنتو سمبال محصلین وړاندې کړي.

د ګوهر شاد خصوصي لوړو زده کړو مؤسسې رئیس محمد علي اخلاصي د لوړو زده کړو وزارت د دعوت او ارشاد رئیس له لارښوونو او سپارښتنو د مننې تر څنګ، ژمنه وکړه چې د محصلینو د روزنې په برخه کې به د اسلامي او ملي ارزښتونو او همدا راز د لوړو زده کړو وزارت د لارښوونو د عملي کولو په برخه کې پوره هڅه وکړي.

### د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د ترکیې لوړو زده کړو او دیني چارو له وزیرانو...

پوهنځیو څخه لیدنه وکړه او د طب او انجنیري په برخو کې یې د دې پوهنځیو د مسؤلانو تجربې او نظرونه واورېدل.

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د ترکیې د دیني او مذهبي چارو له وزیر، د مرکزي دارالافتاء او بورسونو له رئیسانو سره وکتل. دغه راز افغان محصلانو ته یې د ترکیې د بورسونو له ورکړې خوښـي څرګنده کړه او په دغه برخه کې یې د لا زیاتې همکارۍ غوښتنه ترې وکړه.

همدارنګه افغان پلاوي د یاد سفر پرمهال د یونس ایمرې انسټیټوټ له رئیس کوتالمیش یالچین د هېواد په روغتیایي برخه کې د همکارۍ په موخه کتلي دي.

د یادو لیدنو پرمهال د لوړو زده کړو سرپرست وزیر د ترکیې او افغانستان ترمنځ د دیني او کلتوري ګډو مشترکاتو په اړه خبرې وکړې، د افغانستان په تعلیمي او تحصیلي برخو کې یې د ترکیې نظري او عملي زده کړو، انلاین زده کړو، بورسونو، افغانستان ته د ترکیې استادانو رااستولو، د افغان استادانو د ظرفیت لوړولو په موخه ترکیې ته د سفرونو برابرولو، له افغان نړۍوال پوهنتون سره په بېلابېلو برخو کې د همکارۍ غوښتنې وکړې.

همدارنګه یاد پلاوي په ترکیه کې د افغانستان سفارت مسؤلانو او افغان محصلینو له استازو سره هم وکتل، د هغوی ستونزې یې واورېدې او د حل په موخه یې ډاډ ورکړ.

### د لوړو زده کړو مالي او اداري معین خیبر طبي...

د لوړو زده کړو وزارت مالي او اداري معین مولوي حافظ محمد حامد حسیب د خیبر طبي پوهنتون پلاوي ته د ښه راغلاست تر څنګ په علمي ډګر کې د دواړو هېوادونو تر منځ پر ګډو همکاریو ټینګار وکړ. نوموړي له یاد پلاوي څخه وغوښتل چې د طب په برخه کې له موږ سره خپلې تجربې شریکې کړي.

همدارنګه د خیبر پوهنتون رئیس ډاکټر ضیاءالحق او ورسره راغلي پلاوي د دواړو هېوادونو ترمنځ ګډو همکاریو او له یو بل سره د تجربو شریکولو ته تیاری وښود او د ناستې په پای کې د همکاریو د څرنګوالي په موخه د یوې ګډې کمېټې پر جوړولو ټینګار وشو.

### سرپرست وزارت تحصیلات عالی از مدارس دینی کشور ترکیه ...

سرپرست وزارت تحصیلات عالی و هیئت همراهش علاوه بر دیدارش از مسئولان و استادان مرکز تخصصات دینی در شهر قونیه، از محصلان افغان که در بخش های رشته های مختلف علوم دینی در مرکز های تحصیلی این شهر مشغول می باشند نیز دیدار کرده نظرات و پیشنهادان آنان را استماع نمود.

همچنان سرپرست وزارت تحصیلات عالی در جریان این سفر، ضمن دیدار از فارم های مختلف پوهنتون زراعتی ترکیه، تجارب و امور کاری در این بخش را مشاهده نموده، خواستار همکاری در بخش های علمی، تحقیقی، اقتصادی و زراعتی با افغانستان گردید.

## ځان او جهان څنګه پیژنو؟

غ.د. خاورين

د هر فلسـفي مكتب اصـلي خبره حقيقت تـه لاربنــوونه ده؛ يا په بله ژبه هر فلســفي مكتب غـواړي نـورو تـه جهـان ور و پـيـژني. او هر فليســوف خپله فلسـفـه يواځينى او لږ تر لږه حقيقت ته د رسېدو لنډه لار بولي؛ خو تر اوسـه پورې هيڅ يو فليســوف هم د خپلې فلسـفي له لارې د شـيـانو او مفاهيمو حقيقت خلكو تـه ونشـو پېژندلی، چې د ټولو پرې يقين راشـي. اروا پوهـان د پېژنـدلو (معرفـت) لـه پـاره دوه شرطونه په ګوته كوي:

- د انسان د معرفتی عمليو سم فعاليت
- د شـيانو د خواصـو څرګنديدل د عمل په پايله كې

<u>د انسان د معرفتي عمليو فعاليت</u>

د چاپيريال د شيانو انعكاسات د انسان په ذهن كې د هغو د پېژندلو له پاره لومړنی شـرط بلل كېږي.

معرفتي عمليې څېرته ترسره كېږي؟

په انســان كې د معرفتي عمليو تر ټولو ســاده پړاو په حســي غړو كې تر ســره كېږي. لكه؛ د شيانو رنګ او اندازه، د ليدو حس (سترګو) له لارې؛ آوازونه د اورېدو حس (غوږونو) له لارې؛ د شــيـانو تودوخه، زيږوالی، نرموالی او ... د پوســتكي د حس لـه لارې، همدا راز د بدن د عضــلو د بېلابېلو وضــعيتونو په هكله چې د خوځولو پـه پـايلـه كې را منځ تـه كېږي، د عضلاني حس په مرسته او د بدن د تعادل حالت د تعادل د حس په مرســته حافظې ته ســپارل كېږي او په ذهن كې را سپړل كېږي.

له مادي چاپيريال څخه د پوهې ترلاســه كولو لومړنۍ سـرچينه د انســان حواس دي. حواس د انســـان او دهغـه د مـادي چاپيريـال ترمنځ د ارتباط كړۍ جوړوي.

لـه احســـاس (حس كولو) څخـه وروســتـه بلـه معرفتي عمليـه ادراک دی. ادراک د حســي معرفت لوړ پړاو تشـكيلوي چې په دې پړاو كې د شــيانو ځو اړخيز خواص په ذهن كې انعكاس مومي. ويلای شـو چې ادراک د احســاســاتو د يوځای كېدو او متمركز كېدو په پايله كې منځ ته راځي. دا معرفتي عمليه د ټولو ځانګړتياو او كيفيتونو لرونكې ده، چې په حسي غړو كې يې انعكاس موندلی دی. كله چې يو شــی درک شو، د هغه په هكله تصـور پيدا كېږي. د تصـور په پايله كې كولای شـو د خپل دوسـت او ملګري څېره په ذهن كې راولو چې كيدای شي څو كاله مو نه وي ليدلی - او دا سې نورې بېلګې يادولای شو. تصـور نه يوازې د احســاســاتو او ادراک يوځايي تصـوير دی؛ بلكې د اصــلاح كولو او پرتله كولو عمليه هم ترسره كوي.

احسـاس، ادراک او تصـور د حسـي معرفت پوله ده. د دې نه اخوا د تفكر عمليه پيلېږي. د تفكر لومړنی پړاو حســي تفكر دی او ډېر لوړ پړاو يې منطقي تفكر دی. د ځان، ټولنې او د چاپيريال د هر اړخيزې پيژنـدنې او د هغو ترمنځ د پېچلو اړيكو قوانين پيدا كول د تفكر كار دی.

تفكر تر ټولو معرفتي عمليو ډېره مغلقه او پېچلې عمليه ده چې بيا په خپل وار بېلابېلې عمليې لكه تجزيـه، تركيـب، تعـميم، تحـليـل، كشــف او وړاندوينه ترســره كوي. موږ د هر هغه څه په هكله فكري عمليې ترســره كوو چې پخوا مو په حافظه كې ســاتلې دی او د خپل فكري عميلو په پايله كې نور داســې شــيان زده كوو چې پخوا ور باندې نه پوهيدو.

د تفكر عمليه انســـان ته دا امكانات برابروي چې خپل بدني فعاليتونه او ذهني فعاليتونه يو بل سـره تعويض كړي؛ عملي فعاليتونه په تصـور بدل كړي او داسـې امكانات برابر كړي چې يو عملي مشـكل په نظري توګه تحليل او ورته د حل لار پيدا كړي.

د پای خبره: هماغسې چې د بدن ټول سېستمونه يو بل سـره تړاو لري او په همغږۍ سـره خپلې دندې پر مخ بيايي، په همدې توګه ټول معرفتي عمليې هم يو بل ســره تړلي دي او يو بل ســره پوړيو په توګه وصــليږي. معرفت له حس كولو پيلېږي (حس كول د معرفت تر ټولو ســاده پړاو دی). حس كول په ذهن كې د شيانو د خواصو يو ساده انعكاس دی چې پر حســي غړو باندې د شــيانو د مســتقيمې اغېزې له امله منځ ته راځي. له دې نه وروســته ادراک يا د شــيانو د خواصــو درک كول دی. دا عمليه د حس كولو په پرتله پېچلې عمليه ده. د ادراک په هكله ويلای شـو چې د شـيانو او نورو پديدو د صـفاتو د كلي (ټول ټال) انعكاس پايله ده چې پر حســي غړو باندې د هغو د نيغ په نيغه اغېزې له امله منځ ته راځي. د ادراک په عمليه كې د موضــوع يو مكمل تصـوير د هغه د ټولو خواصـو د انعكاس په واسـطه منځ ته راځي. حافظه بيا د معلوماتو د ســاتنې ځای دی؛ د همدې ســاتل شــويو معلوماتو پر بنسـټ د چارو په تر سره كولو كې پرېكړه كوو. پرته له حافظې هيڅ يو منظم فعاليت په حاضـر زمان كې نه ترســره كېږي. دا عمليه په حقيقت كې د فكر كولو لپاره د ګودام حيثيت لري. خو په دې ياد شويو معرفتي عمليو كې تر ټولو لوړ يې تفكر دی. پـه دې كې بيـا انتزاعی / منطقی تفكر د انســـانـانو ځـانګړنـه ده. تفكر تر ټول معرفتي عمليو زياته پيچلې معرفتي عمليه ده چې د يوې ډېرې پېچلې مادې د فعاليت پايله ده او هغـه مـاغزه دي. لكـه چې پورتـه يـادونـه وشــوه، د تفكر پـه مرســتـه انســـان بېلابېلې عمليې لكـه تجزيـه، تحـليـل، تركيـب، تعميم، ارزونه، كشف، وړاندوينه او دا سې نور ترسـره كوي. د ژوند پرابلمونو د تفكر په مرســته حل كولای شو؛ نه د نورو يادشويو معرفتيی عمليو په مرسته.

### غوره وينـاوې!

راټولونكی: ناصر خان شېرزی

د حضرت علي رضی الله عنه نصيحتونه!

۱. يـو ګنـاه كـار هـم د الله ج لـه رحمتـه مـه نـاهيلی كـوه ؛ځكـه د ډېـرو كنـاه كـارانو عـاقبـت ښـه شوی او ځيـنـي نيكـان د عمـر پـه پـای كې تبـاه شوي او دوزخ ته تللي.
۲. آخـرت تـه بـدە توبـه پـر بنـده ګـانو تېـری كـول دي.
۳. پـر كړاوونـو زغـم، د ايمـان لـه زېرمـو څخـه يـوه زېرمه ده.
۴. نېكمرغــه هغــه دی ،چــې لــه نــورو پنــد او عبرت واخلي.
۵. ادب غــوره ميــراث دی او ښــه خــوی غــوره ملګری دی.
۶. څـوک چـې مـرګ ډېـر يـاد كـړي، پـه لـږې دنيـا هـم خوشـحالېږي يعنـې دنيـا ورتـه كـم ارزښـته شي.
۷. قناعت يوه نا پايه شتمني ده.
۸. څـوک چــې ډېــرې خبــرې كــوي تېروتنــې يــې ډېرې وي.
۹. څـوک چـې د ښـو (خيـر) او بـدو (شـر) تـوپير نـه كوي ، د څارويو په لېكه(كتار) كې دي.
۱۰. پستې خبرې د سترتوب نښه ده.



## د علي اباد تدريسي روغتون له سرطبيب ډاکټر عزيزالدين ظهير سره ځانګړې مرکه

مرکه کؤونکی: انجينر محمد اسلم اسلم



د لوړو زده كړو وزارت د اونيزې قـدرمنـدو لوستونكو د مركو په دوام كې مو دا ځل د علي ابـاد تـدريســي روغتون لـه ســرطبيب ډاكټر عزيزالدين ظهير سره مركه كړې ده، هيله ده چې مركه له پيله تر پايه ولولئ!

پوښتنه : قدرمن ډاكټر صاحب كه په لنډه توګه مو د اونيزې لوستونكو ته خپل ځان ور وپېژنئ.

ځواب : نوم مې عزيزالدين تخلص ظهير كوم، د لوګر ولايت په يوه ديندار كورنۍ كې زېږېدلی يم، په ۱۳۹۲هـ.ش كال د شيخ زايد پوهنتون له طب پوهنځي څخه فارغ او اوس مهال د علي اباد تدريسي روغتون سرطبيب او خادم او هم مهاله د ارتوپيدي څانګې ترينې ډاكټر په توګه دنده پرمخ وړم.

پوښـتنه : كه په دې اړه هم راته ووايـاست، چې علي اباد تدريسي روغتون په كومو برخو كې د ناروغانو تداوي كوي؟

- علي اباد تدريســي روغتون يو كمپليكس دی او دلتـه د عمومي جراحي، عصــبي جراحي، يورولوژي، ارتوپويـډي، قلبي، عقلي عصــبي، تنفســي او اندوكراين په برخو كې د ناروغانو منظمه تداوي كيږي. او هم مهـالـه د لابراتوار پـه برخـه كې د نـاروغـانو بېلا بېـل معـاينـات ترســره او هېوادوالو ته خدمات وړاندې كيږي.

پوښــتنه: تاســو ، چې د كومو خدماتو يادونه وكړه، دغـه خـدمـات كـاملاً وړيـا دي كـه نـه ځانګړی كمښت لري؟

- نه كاملاً وړيا نه دي يو څه اندازه پيسې له مراجعينو اخيســتل كېږي، هغه هم په ډېره كمـه انـدازه، د مثـال پـه ډول ۲۰ يـا ۳۰ افغانيو نيولې او په بعضې جراحي عملياتو كې تر (۱۰۰۰) زر افغانيو اخيستل كيږي، چې په مســتقيم ډول د دولت ملي بوديجې په عايداتو كې اضافه كېږي.

پوښـتنه: سـرطبيب صـاحب تاسـو دلته په علي اباد روغتون كې څو بسترخونې لرئ او روغتون په يو وخت كې په څومره تعداد ناروغانو د بستر ظرفيت لري؟

- علي اباد روغتون له تأسيس سره تر ډېره وخته (۷۰۰) بستره لرل؛ خو اما د تېر نظام په وروستيو كې د زيات اداري فساد او نه پـاملرنې لـه وجې ډېر تاسيسات او سېستمات وځپل شـول، چې علي ابـاد روغـتـون هـم تـرې مســـتثنا نـه و؛ خو پـه اوس وخت كې علي اباد تـدريســي روغتون لـه (۲۵۰ ــــ نـه تر ۲۷۰) پورې فعال بستره لري.

پوښـتنه : دا چې علي اباد يو تدريسـي روغتون دی او دلته عملاً ډاكټر صـاحبان روزل كېږي، په اوس وخت كې څومره ډاكټران په تخصـص بوخت دي؟

- مونږ، چې وړاندې له كومو څانګو يادونه وكړه، په دغو څانګو (۷۳) ترينې ډاكټران د تخصــص په برخه كې لرو، چې د (۲۵) متخصــصـو ډاكټرانو له لورې يې ټرنينګ پر مخ وړل كيږي، همدارنګه پـه روغتون كې (۹۰) كـادري اســـتـادان لـرو، چې د مريضـانو د تداوۍ ترڅنګ ټرينينګ هم پر مخ وړي.

همـداراز هره ورځ مونږ پـه روغـتون كې لـه (۴۵۰ــــ نه تر ۵۰۰) پورې OPD ناروغان لرو، چې له تحول وروسته زمونږ د OPD كچه اتياوو نه تر سلو پورې وه او بستر ناروغان خو مو هيڅ لرل هم نه، اما اوس مو د مراجعينو كچه زياته شوې ده او د ا.ا.ا په راتګ سره مو په تجهيزاتو او وسـايلو كې د پام وړ زياتوالی راغلی دی او شـاوخوا (۲۷) اووه ويشـت ميليونه افغانيو په ارزښت مو روغتون ته د الټراساونډ ماشين، انســتيزي ماشــين، د لابراتوار ماشــينونه، عمليات خانو لپاره ايركنډېشنې او نور لوازم، چې د پرنېچر ســامانونه هم پكې شــامل وو اخيســتـل شــوي، چې ورســره مو علي ابـاد روغتون ته د ناروغانو راتګ هم ډېر شوی دی. په راتلونكې كې مو پلان دي، چې د پيوازانو لپاره ځانګړي ځايونه جوړ كړو ترڅو د ژمي په يخه هوا كې پيوازان مسون وي.

پوښــتنه : ظهير صــاحب د پيغام په ډول به مو وروســتۍ خبرې نـاروغـانو، ډاكټرانو او استادانو او په ټوله كې ټولو هېواد والو ته څه وي؟

- ډاكټرانو او استادانو ته دا وايم، چې خپل فعـاليتونـه دې لا زيـات او چټـک كړي همدارنګه قانون او اصولو ته دې ژمن پاتې شــي او ناروغانو ته دې په رښــتيني ډول خدمت وكړي.

عامو هېوادوالو ته مې پيغام دی، چې تاسـو ښــه په ډاډه زړه پر مونږ اغتبار او باور وكړئ مونږ ســتاســو باور نه ماتوو او نه شــو كولی ستاسو باور مات كړو .

ظهير صــاحب ډېره مننه، چې وخت مو راكړ او مركې ته حاضر شوئ!

ځواب : له تاسـې هم ډېره ډېره مننه، چې زمونږ غږ تر هېوادوالو رسوئ!

### سرليكنه

په ځانګه كې دوه د ماسـټري پروګرامونه او يو د (سـټركچر انجنيري) په ځانګه كې د دوكتورا پروګرام لري .

۴. شـرعياتو پوهنځی (فقه او قانون، قانون او سـياسـي شـرعيت، اقتصـاد او اسـلامي بانګداري) په ځانګو كې دری د ماسـټري پروګرامونه او د (فقه او قانون، قضـا او شـرعي سـياسـت، مالي چارو او اسـلامي بانګداری) په ځانګو كې دری د دوكتورا پروګرامونه لري .

انشاءالله چې افغان نړيوال پوهنتون (AIU) به د يوه متحد ، متخصــص، مؤمن او پـه نړيوالو معيارونو برابر علمي كادر په درلودلو ســره د ماســټرۍ او دوكتورا په كچه علمي كادرونه روزي.

په درناوی

اداره

شماره یکصدو نودو پنجم- سال نهم- جوزا ۱۴۰۱ هـ.ش

## تحقیق: مفاهیم اساسی

غ.د. خاورین

**تحصلات عـالی در قبال انتقال دانش بـه محصلان و گسترش دانـش و عرضـۀ خـدمات، و ظیفـۀ مبـرم تـر دیگری را بـه عهـده دارد کـه آن تولیـد دانـش از راه تحقیقـات علمـی و مـنظم اسـت. ایـن بخـش کـار در عصر حاضر روز به روز بارزتر و با اهمیـت تـر شـده میـرود. بنـابر ارزش آن ایـن سـتون بـه نگـارش یافتـه هـا و تحلیـل ها در زمینۀ تحقیق اختصاص داده شـده اسـت. توقـع میـرود تـا دانشـمندان و خبـره گـان مـا در تـداوم آن سـهم فعال بگیرند.**

### بخش ۲

تحقیق به شیوه و ا سلوب علمی، کو ش شی ا ست برای توسعۀ دانش و پیدا کردن به سوالاتی که لا ینحل مانده است. هکذا کوششـی است به خاطر دریافت راه های مطلوب در امر حل مشـکلات موجود و در یک جمله تحقیق اساس انکشاف را تشکیل میدهد که با تداوم آن توسعه و پیشرفت یک جامعه استمرار می یابد.

دین مبین اسلام از بدو ظهور خویش، درِ تحقیق را برای مسلمانان باز گذاشته است. قرآن کریم بار بار مسلمانان را به تفکر واداشـته اسـت تا جلو انجماد فکری گرفته شود. به همین دلیل سازمان یونسکو در گزارش علمی خود یاد آور شده که ا سلام در امر تأکید بر امور تحقیق نظر به سایر ادیان جایگاه برتر دارد.

پیشرفتهای بشر در عرصه های علوم طبیعی، تکنالوژی و علوم اجتماعی همه نتیجۀ کارهای تحقیقی دانشمندان است. در هر زمان و هر مکانی که به امور تحقیق اهتمام صـورت نگرفته یا کمتر به آن توجه شـده ؛ به همان اندازه آهنگ تولید و گسترش علم بطی گردیده ا ست. هرگاه تحقیق صـورت نگیرد، بر دانش بشـر نیز چیزی افزوده نخواهد شد. چنانچه در طول تاریخ بشر گاه گاه، در بعضـی از بخشـهای کرۀ زمین دسـت و زبان دانشمندان بسته شده و راه تحقیق سد شده است؛ در همان شـرایط آهنگ رشـد علم به رکود مواجه گردیده اسـت. چنانچه قبل از دورۀ رنسـانس که در اروپا تمام زمینه های تحقیق سد شده بود، اروپا در جهل مطلق به سـر میبرد. اروپاییان به آن عصـر نام عصـر تاریک (Dark age) داده بودند.

در کشـور ما مهمترین کانونهایی که در شـرایط کنونی در امر تحقیقات علمی پیشگام اند، نهاد های تحصیلات عالی کشـور اند اما متأسـفانه کار این نهادها در امر تحقیق به مقایسۀ آموزش و انتقال دانش در سطح نازل قرار دارد. مع الوصـف در سـالهای اخیر به این مأمول توجه صورت گرفته است که شماری از استادان ثمرۀ کار شان را در چوکات مقاله های علمی به سطح ملی و حتا به سـطح بین المللی در ژورنالهای معتبر جهان به نشـر رسانده اند. این امر رهگشای کارهای موثر تری در زمینه میباشـد. اخیراً معینیت امور علمی به تمام وزارتخانه ها طی نامه ای از آنها خواسـته اسـت تا به موضـوعاتی که ایجاب تحقیق علمی را مینماید و نتایج آن در عرصـۀ امور مربوطه شان کاربرد دارد، به این وزارت اطلاع دهند تا باشـد اسـتادانی که دسـت اندر کار تحقیق اند حسـب ارتباط مسـلک موضـوعی را از میان آن برای تحقیق برگزینند.

آنچه در انک شاف امور تحقیق در یک ک شور موثر ا ست عبارت انداز:

1 - تقو یۀ ن هاد های تحقیق از نظر ام کا نات، منجمله:

الف) امکانات مادی به شمول زیر ساختها

ب) امکانات کیفی که شـامل منابع اطلاعات میگردد اعم از : مجلات علمی ملی و بین المللی و کتابها (چاپی یا الکترونیکی) ، دسترسی به شبکه های مجازی اطلاعات.

۲ - جلب و جذب و تشویق دانشمندانی که اهل تحقیق اند .

ادامه دارد... .

## تحلیل و تعیین محتوا، روش و وسایل تحصیلی

ترتیب کننده: عبدالمرید "کوهستانی"

اگر محتوا، روش و وسـایل متناسـب با هدف های تحصـیلی انتخاب و تنظیم نشـوند حتی اگر هدف های تح صیلی دقیق و خوب تنظیم شده با شند فعالیت های تحصـیلی هرگز محصـلان را به آنچه که باید برسـند، هدایت نخواهد کرد.

پس از تعیین اهداف و تحلیل موقعیت تحصـیلی اسـتاد با ید به تحا یل، انتخاب و تنظیم محتوا بپردازد. البته محتوایی باید انتخاب شود که کاملاً متناسب با اهداف و قابل تدریس در زمان تعیین شده با شد. به عبارت دیگر تحلیل محتوا و هدف های تحصیلی هر دو باید براساس رفتار مورد انتظار محصلان تعیین شـوند. به کارگیری محتوا در فعالیت های تحصـیلی با ید مو جب تحقق اهداف مورد نظر گردد.

سـازماندهی و تنظیم محتوا در پروسـه اجرا بسـیار حائز اهمیت است. در صورت امکان، مطالب آسان باید قبل از مطالب پیچیده و مشـکل ارائه گردد. مفاهیم نظری باید قبل از فعالیت های عملی ارائه شوند.

محتوا باید با توانایی محـصلان انطباق دا شته با شد و بر اجزای اصـلی تحصـیل تأکید کند و اطلاعات را به طور مؤثر و قابل درک، ارائه نماید. محتوای در سی منا سب یا ابزار اولیه تـدریس هسـتنـد. اگر خوب انتخـاب یـا سازماندهی نشوند، ممکن است فعالیت های تحصیلی و در نتیجه رسـیدن به اهداف تحصـیلی را دچار اختلاف نمایند اسـتادان باید توجه کنند که هرگز نباید محتوا را جایگزین اهداف تحصیلی کنند.

فعالیت های تح صیلی نیز هرگز نباید منح صر به محتوای کتاب درسی شود. فعالیت های یادگیری باید متنوع و حتی در صورت لزوم فراتر از مطالب مطرح شده در کتاب درسی باشـد. فعالیتها می توانند شـامل مطالعه ی آزاد، مطالعه کتب غیردرسـی مرتبط با موضـوع درس، تهیه گزارش، و خلاصـه های مطالب تحصـیلی و نتایج تحقیقات و سفرهای علمی و عملیاتی کاملاً ابتکاری و نو باشند.

پروژه های تحصیلی، تمرینهایی هستند که بر ا ساس آن محصـلان می توانند مهارت و دانش خود را در خلق و تولید یک مو ضوع علمی نشان دهند. و سایل تحصیلی به مجموعه امکاناتی اطلاق می شوند که می توانند شرایطی را فراهم سازند تا در آن شرایط، یادگیری سریعتر، بهتر و پایدارتر صورت گیرد. استاد کارآمد باید انواع و اقسام رسانه ها و و سایل تح صیلی را برای انتقال پیامهای تح صیلی و ت سهیل یادگیری ب شنا سد و در ست به کار گیرد. تدریس منظم و مؤثر کاملاً متکی بر ر سانه ها و و سایل تح صیلی اسـت. با چنین رویکردی باید گفت: حتی اسـتاد، کتاب در سی و محیط پوهنتون و سایر امکانات نیز جزو و سایل تحصیلی محسوب می شوند.

اما در پرو سه طراحی تحصیلی منظور از و سایل تحصیلی، مجموعه ی وسایل گرافیکی، عکس و یا وسایل الکتریکی یا مکانیکی که برای دریافت اطلاعات، اعم از دیداری یا شـنیداری به کار می روند، اطلاق می گردد. لازم اسـت اسـتاد مزایا، معایب و محدودیتهای هریک از وسـایل را برای تحصـیل درس خود بداند. اسـتفاده از وسـایل تحصـیلی، صـرفاً برای اسـتفاده از آنها و بدون توجه به ماهیت آنها و بدون هیچ قصـد و هدفی، همواره مورد تردید ا ست. و سایل انتخاب شده باید متنا سب با محتوا، موقعیت تحصـیلی، روش تدریس و اهداف تحصـیلی باشد. به کارگیری وسیله نامناسب یا استفاده از وسیله در زمان و موقعیت نامناسـب فقط باعث هدر رفتن وقت و کوشـش اسـتاد و محصـلان می شـود. باید به وسـایل تحصیلی تنها از منظر و سیله ای که تحصیل و یادگیری را تسـهیل می کنند و سـبب یادگیری می شـوند، نگاه کنیم.

تهیه و انتخاب وسایل تحصیلی خواه به وسیله ی استاد صورت گیرد و یا مح صلان، نیاز به دقت نظر دارد، یک وسـیله ی خوب نه تنها سـبب رسـانیدن پیام به بهترین وجه می شود؛ بلکه علاقه، توجه و انگیزه ی مح صلان را نیز کاملاً تقویت می کند. ا ستادان باید بدانند که هیچ و سیله ی خا صی را نمی توان به عنوان بهترین و سیله برای تمام ا هداف تحصـیلی به کار گرفت. هدفهای رفتـاری بهترین راهنمـا و معیـار برای انتخـاب و بـه کارگیری وسایل تحصیلی هستند.


۱۹۵مه گڼه – نهم کال - ۱۴۰۱ هـ.ل - غبرگولی

## د اسلامي حاکمانو، اخلاق او صفات

لیکوال: الحاج مولوي عبدالباقي حقاني

### ۱۳ـ علم او د وینا ملکه (پوهه) لرلطظ


د وخـت حـاکم او مسـؤل بـه د سـالم عقـل، د دینـي او دنیـوي لازمـي پـوهې، خلکـو تـه د لاربښـووني او د خلکـو د پوهولـو وړتیـا ولـري. پـه قائـد او د دولـت مشـر کـې بایـد د فصـاحت صـفت پـه لـوړه کچـه کـې موجـود وي، دا صـفت د اداري قیـادت لـه اساسـاتو څخـه شـمېرل کېـږي؛ ځکـه دې سـره قائـد او مشـر خپـل رعیـت تـه قناعـت ورکـولای شـي. څـومره، چـې یـو حـاکم حاضـر ځوابـه او فصیح البیـان وي پـه همغـه انـدازه بـه خپلـه دنـده کـې برلاسی او بریالی وي .

رسـول الله صـلی الله علیـه وسـلم پـه فصـاحت او بیـان کـې یـوه بهترینـه نمونـه او مثـال و، دا د ده د وظیفـې او دنـدې پـر اسـاس، چـې خلکـو تـه د الله تعـالی دیـن ورسـوي او پـه ښـه ډول یـې ورتـه تشـریح کـړي. کلـه چـې حـاکم او مشـر پـه خپـل ځـان کـې د کـومې پـوهې د کمښـت یـا بـې وسـۍ احسـاس وکـړي؛ نـو د اړتیـا پـه وخـت کـې کـولای پـه یـاده برخـه کـې ځانتـه متخصـص او هوښـیار سـلاکاران مقـرر کـړي، پـه دې شـرط چـې پـه نومـوړو سـلاکارانو کـې د اخـلاص مـاده شـتون ولـري او د ملـت پـه درد دردمنـد وي، لکـه موسـی علیـه السـلام چـې د الله تعـالی څخـه د دې غوښـتنه کولـه، چـې د ده ورور هـارون علیـه السـلام دې ده سـره پـه دې مسـؤلیت کـې شـریک کـړي؛ ځکـه موسـی علیـه السـلام د ژبـې بندښـت او بیـان کـې پـه خپـل ځـان کـې د کمښـت احسـاس کـاوه او د هغـه ورور هـارون علیـه السـلام په دې برخه کې تر ده پیاوړی و.

الله تعـالی فرمـایي ـ ژبـاړه: او زمـا ورور هـارون ډېـر فصیح دی لـه مـا څخـه پـه ژبـه کـې پـس ولېـږه هغـه هم لـه مـا سـره یـار او مـددګار، چـې زمـا تصـدیق کـوي، بـې شـکه زه وېرېـږم لـه دې چـې دوی بـه مـا دروا غجـن کـړي.

نـو لـه دې امله فصـاحت او ښـه وینـا پـه اسلام کـې د اداري قیـادت او رهبـرۍ د ارزښـتمنو بنسـټونو لـه جملـې څخـه ګڼـل کېـږي، ترڅـو امـت تـه یـوه رغنـده او پـه کـار پـوه اداري رهبـري او قیـادت رامـنځ تـه شي.

علامـه ابـن حبـان بسـتي رحمـه الله لیکلـي دي: هېڅـوک د مشـرۍ مسـتحق نـه شـي کیـدلی، ترڅـو پـورې، چـې پـه ده کـې درې (۳) صـفتونه نـه وي موجـود شـوي. (عقـل، علـم او د وینـا ملکـه) او د دې سـربېره بـه لـه شپږو (۶) عیبونـو څخـه خـالي وي: (بـې ځایـه تېـزۍ او غوصـې نـه، پـه دنیـوي کـارونو کـې د بیـړې کولـو نـه، د حسـد نـه، نفسـي غوښـتنو د




پلـې کولـو نـه، د دروا غـو ویلـو نـه او د مشـورې نـه کولو نه.

### ۱۴ـ په کارونو کې معقول نظم او انتظام لرل

حـاکم او مشـر بایـد پـه خپلـو کـارونو کـې معقـول نظـم او انتظـام ولـري او د خپلـو اړونـدو چـارواکو کارونه تنظیم کـړي.

ـ د نظم تعریف: کله چې پـه دوه یـا لـه دوو نـه زیـات کسـان سره یـو ځـای شـي او پـه پـوهې سـره د یـو کـار کولـو اراده وکـړي؛ نـو یـو نظم پـه وجـود کـې مـنځ تـه راځـي ګـواکې دا نظـم د دوو یـا لـه دوو نـه د زیاتو کسانو په یو ځای د کار کولو نوم دی.

ـ نظم د اسلام پـه رڼـا کـې: اسلام یـو مـنظم دیـن دی او مسـلمانانو تـه د ژونـد پـه ټولـو برخـو کـې د نظـم او ترتیـب درس ورکـوي، کـوم خلـک چـې د نظـم منـونکي او پابنـد نـه دي دوی پـه حقیقـت کـې د خپـل دیـن نـه نـاخبره دي، کـه خپـل دیـن دوی پـام راواړوي؛ نـو دوی بـه د نظـم معتقـد شـي او غېـر منظم ژوند به په منظم ژوند بدل کړي.

ـ نظم د قرآن پـه رڼـا کـې: د قـران کـریم ډېـر مبـارک آیتونـه انسـان تـه د نظـم او نظـام درس ورکـوي، د یـو څـو مختصـرو ایتونـو ژبـاړه بـه د مثـال پـه ډول ذکر کړو.

۱. الله تعـالی فرمـایي ـ ژبـاړه: بشـکه د الله تعـالی هغـه کسـان خـوښ وي، چـې د هغـه پـه لاره کـې داسـې قلعـي پـوخ شـوی دېـوال. (سـورة صـف ـ ۴ آیت.

۲. الله تعـالی فرمـایي ـ ژبـاړه: پـه تحقیـق سـره وپیژانـده هـر قـوم خپـل د اوبـو څښـلو ځـای. (سورة بقرة ـ ۶۰ آیت

۳. الله تعـالی فرمـایي ـ ژبـاړه: وویـل صـالح علیـه السـلام دا اوښـه ده دې تـه د ورځـې خپلـه برخـه د اوبـو او تاسـې تـه خپلـه برخـه د اوبـو معلومـه ده. (سورة شعراء ـ ۱۵۵ آیت.

دلتـه د صـالح علیـه السـلام اوښـې تـه جـلا ورځ او د قوم لپاره جلا ورځ ټاکل یوه انتظامي موضوع ده.

نظـم د احـادیثو پـه رڼـا کـې: د رسـول الله صـلی الله علیـه وسـلم قـولي او فعلـي احادیـث د نظـم پـه ارزښت باندې دلالت کوي.

- قولي احادیث:

۱- رسـول الله صـلی الله علیـه وسم فرمـایلي دي ژبـاړه: تاسـې صـفونه برابـر کـړئ ګنـې الله تعـالی بـه ستاسـې د مخونـو مـنځ کـې (ستاسـې تـرمنځ) مخالفت راوټوکوي .

مسـلمانانو تـه حکـم وشـو، چـې د لمانځـه پـه وخـت کـې خپـل نظـم برابـر کـړي یـو د بـل سـره نـږدې پـه نـږدې ودرېـږي، ترڅـو د هغـې بـدمرغۍ نـه خـلاص شـي کومـه، چـې د بـې نظمـۍ پـه نتیجـه کـې رامـنځ ته کېږي.

۲- رسـول الله صـلی الله علیـه وسـلم فرمـایلي دي ـ ژبـاړه: تلـل دې کـوي یـو لـه تاسـې نـه پـه یـوه پیزاریـا (څپلۍ کـې، یـا خـو دې دواړه پـه پښـو کړي او یا دې دواړه وباسي.

دواړه څپلـۍ یـا پیـزار پـه پښـو کـول او یـا دواړه ویستل یو انتظامي موضوع ده.

- فعلي احادیث:

د رسـول الله صـلی الله علیـه وسـلم عملـي ژونـد هـم منظم و، چې لاندې احادیث پرې دلالت کوي.

۱- ژبـاړه: نبـي کـریم صـلی الله علیـه وسـلم بـه زمـونږ صـفونه داسـې برابـرول، چـې ګـواکې پـه دې سـره به یې غشي برابرول.

صـفونه پـه اهتمـام او تاکیـد سـره برابـرول امـت تـه په لمانځه کې د منظم اوسیدلو تاکید دی.

د حضرت عمر رضي الله عنه اثر

حضـرت عمـر رضـي الله عنـه د بصـرې والـي حضـرت ابـو موسـی اشـعري رضـي الله عنـه تـه ولیکـل: سـتا پـه هکلـه مـا تـه دا خبـره رارسـیدلې ده، چـې تـه ډېـرو خلکـو تـه پـه یـو وار د لیـدنې اجـازت ورکـوې؛ نـو هـر کلـه چـې تـا تـه زمـا دا لیـک ورسـیږي؛ نـو لـه دې وروسـته مخـورو، علمـاؤ، د تقـوی او دیانـت خاونـدانو تـه اجـازت ورکـوه. هـر کلـه چـې دوی خپـل مجلسـونه لـه تـا سـره پـوره کـړي؛ نـو بیـا عامو خلکو ته اجازت ورکړه.

### ۱۵ــ پـه جهـادي امـورو کـې لـوړه پوهـه او مېړانـه درلودل په راتلونکې ګڼه کې...